مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۴/۰۲/۱۹

د پوهاند احمدشاه زغم لومړی تلین

له ښی خوا استاد احمد شاه زغم، آصف بهاند او استاد بختمیر وزیری
د ۲۰۱۵ ام کال د اپریل دولسمه، کابل، جمال مینه، د استاد احمد شاه زغم کور.

دا دی د سترګو په رپ کې کال تېر شو او لکه د چا خبره د پوهاند زغم د تختې اوبه لا وچې نه دي، چې لومړی تلین یې راورسېد. د استاد خاطرې د ده د ټولو همځولو، همکارانو، دوستانو او شاګردانو په ذهنونو کې ژوندۍ دي، خو روزګار او سیاسي حالاتو پر خلکو داسې ورځ راوستې ده چې هرڅه د خلکو ژر هېرېږي، ځکه خلک د پېښو په توپان کې داسې راګیر شوي دي چې هرڅوک په ځان اخته دي؛ خو زه یقیني یم چې د زغم غوندې شخصیتونه هېڅکله او په هېڅ حالت کې د خلکو ځکه نه هېرېږي چې دی د خلکو په منځ کې، له خلکو سره اوسېدلی و او خپل ټول عمر یې د خلکو چوپړ ته وقف کړی و. همدا وجه ده چې وروسته ترمړینې هم خلکو پوهاند زغم نه دی هېر کړی دی او نه به یې هېر کړي.

کال مخکې مې د ده د مړینې په پار چې کومه مقاله لیکلې وه، هلته ما د استاد احمدشاه زغم په باب داسې لیکلي وو:

«د شپېتمې لسیزې د پیل کلونو کې مې د لومړي ځل لپاره ولید، داسې درناوی به یې کاوه، چې ما فکر کاوه چې دی مو د خپلې کورنۍ کوم کشر غړی دی، خوله ـ له خدا ډکه، ارام او ځیرک سړی و.

جګه ونه، پراخې اوږې او لکه جهان پهلوان له زوره ډک؛ خو مات او کمین انسان، برخورد صمیمي... په ټوله هغه موده کې چې له ده سره په پښتو څانګه کې په تدریسي چارو بوخت وم، زما نه یادېږي چې له ده نه به مې یوه بده خبره اورېدلې وي، تل یې داسې چلن کاوه چې دی تر ټولو کشر وي او د هر استاد د خدمت له پاره به ولاړ و.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا له وجود او روح نه ځواکمن سړی کومې نا پېژاند مرض راونیو او داسې یې سره ونښېځه چې د افغانستان څه چې، د جهان طبیبان یې هم په مداوا پوه نه شول، اوس د تل لپاره کډه شو او وروسته تر دې له موږ سره نور فزیکي شتون نه لري.

له ما سره د استاد زغم د رسمي دندې د همکارۍ او د شخصي ملګرتوب ډېرې خاطرې خوندي دی. زه به چې هر ځل افغانستان ته لاړم، زنګ به مې ورورواهه چې چېرې یې، که به په کور کې و، مخامخ به کور ته ورغلم، ټوله ورځ به یې کېنولم، راته ویل به یې چې:

تلی نه شې، دا ورځ به له ماسره تېروې.»

د پوهاند زغم د لومړي تلین د درناوي په پار به د هغو قلموالو لیکنو او خاطراتو باندې تم شم چې کال مخکې د ده تر خښېدو وروسته په میډیا کې راغلې دي. دا به له یوې خوا د استاد زغم د شخصیت په باب د بېلابېلو استادانو نظریات په یوه ځای راټول شي او بل پلو دا هره خاطره د استاد زغم له شخصیت سره او د ده له پوهې سره نېغ تړاو لري:

پروسړکال د پوهاند زغم تر خښېدو وروسته د ده د ملګري او همکار پوهاند دوکتور بریالي باجوړي د ده د شخصیت او حوصلې په باب خپل خاطرات داسې ولیکل:

«احمدشاه د زغم او حوصلې نوم:

حوصله یې لکه سمندر اوزغم یې لکه دنګ ا و هسک غر دمقاوت اوهوډ یوفولادي انسان و ۰ کنه ددومره دردونو اوکړاونو زغم څوک لري چې کلونه کلونه یې وزغمل او اه یې ونه کړ هغه دوزیري صاحب خبره چې که بل څوک وای وختي به یې هډوکي خاوري وای۔ دومره اوږده او له دردونو ډکه ناروغي چې داستاد دګل په شان ځواني یې لکه خزان وهلې وچه ونه کړه چې نه ورته هغه قامت پاتې شو نه هغه پلنه سینه نه هغه مظبوطې متې اونه هغه بشاشه څېره.
په اغلب ګمان چې 2013 کال به و چې استاد راته یو ورځ وویل چې دلاس ګوتې مې پړسیدلې دي۔ ما ورته وویل چې دومره جدي به نه وي خوبیاهم ډاکټرته ورشه ۰ استاد دوه درې ډاکټرانو ته ولاړ ۰ دوا یې واخیستله خونتیجه یې ورنه کړه۔ هند ته دتلو تکل یې وکړ ۔ ما هم دتګ نیت درلود ۔ موږ دواړه هند ته لاړو او دوه درې ورځې وروسته په ډهلي کې دمکس روغتون ته لاړو۔ له ماینانو وروسته ډاکټروویل چې دا دپوستکي یو ډول ناروغي ده چې په ډېرو کمو کسانو کې پیداکیږي چې ټول وجود لکه دتیږې کلکوي اوټول وجود نیسې علاج نه لري اودوا ددې پاره ورکووچې مرض پیشرفت ونه کړي۔ دی باېد په کال کې درې ځلې اویادوه ځلې ماته راشي۔ ددې نتیجې په اوریدو سره زه زیات خفه شوم خو داستاد په روحیه کې دومره شدید تاثر مااحساس نه کړ ۔ استاد ته یې نور ټیستونه هم ورکړل ۔ دټیستو نو ترمنځ په وقفو کې زه او استاد د دهلي دتاریخي ځایونو په لیدولو بوخت وو ۔ اخر چې ټول ټیستونه وشول نو دوا مو واخیستله۔ دواړیره قیمته وه۔ ددرې میاشتو دوا پنځه اویا زره روپۍ شوې۔ بیرته چې هیواد ته راغلو نو داستاد لپاره ډیره ګرانه وه چې درې ځلې په کال کې هند ته لاړشي او هردرې میاشتې وروسته دپنځه اویازره روپو دوا واخلي۔ یوکال دوه خویې څه چاره وکړه خوبیایې وسه نه کیده ۔ خدای دې استاد هیوادمل تردیره ژوندی اوباعزته لري له هغه سره مې داستاد مشکل یاد کړ چې بیا هیوادمل صاحب دوه ځلې ورسره مادې مرسته وکړه۔ خواستاد ته نه دجمهوریت په وخت کې توجه وشوه اونه په اسلامي امارت کې۔ دپاسپورټ وخت یې تیرشوی و نه جمهوري نظام ورکړ اونه اسلامي نظام۔ دازموږ دیوپوهاند ډاکټر استاد حال دی هغه استاد چې څلویښت کاله یې ددې وطن بچیان وروزل۔ بې وسۍ غریبۍ اوناروغیسره لاس په ګریوان استاد کله په کوراوکله په روغتون کې دشدیدو دردونو سره مجادله کوله خوزغم څومره حوصله څومره ؟ له بسترکیدو نه دمخه مې دمختار جان سره په برلین کې تماس ونیو هغه راته وویل چې ناروغي یې زیاته ده اوپه روغتون کې دی۔ په سبا مې اختیار داستاد مشر زوی ته زنګ وواهه۔ تلیفون بل چا واخیست راته یې وویل چې داختیار ماما یم۔ پوښتنه مې وکړه۔ هغه راته وویل چې ښه نه دی دعا ورته کوئ۔ ډیر زیاته خفه شوم ۔ استاد رفیق ته مې زنګ وواهه ۔ هغه تلیفون وانه خیست۔ خو دوه درې ساعته به نه وو تیر چې استاد رفیق زنګ راووهه اوراته یې په ژړغوني اواز وویل چې احمدشا لاړ۔ ډیر دردونکی خبر چې حواس مې ورسره مړه شول نورې خبرې مو ونه شوې په مسافرۍ کې دخپل یاردوست اوهمکار دمرګ خبر ډیرسخت دی چاته وژاړې دچاسره زړه تش کړې۔ بس زه وم او دکوټې دیوالونه۔ په فکرکې لاړم تیرو کلونوته چې زه نوی استاد شوی وم اودی لامحصل و۔ دوه کاله وروسته دی هم استاد شو۔ ډیرغښتلی و ورزش یې نه قضا کاوه خو دیر صقیل ورزش یې کاوه۔ دزیات کارعلاقمند و دهغه وخت له اخبارونو مجلو ،جرایدو اوباختراژانس سره قلمي همکارو ۔ شعریې هم وایه او د ((ویش)) تخلص یې درلود ۔ وروسته یې پښتو فولکلورته ډیر کاروکړ ۔ دتصوف او عرفان له تدریس سره دده په سلوک کې هم تغیر راغی اولکه دعارفانو خوی خصلت یې پیداکړ او همیشه به په تفکرکې و ۔ داستاد زغم صفتونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډیردي که په هریو خبرې کوو نوموضوع ډیره اوږدیږي۔ خودومره باید ووایم چې دژوند طرز یې فقیرانه و ۔ حوصله یې زیاته وه۔ دهرچا دوست اواشناو۔ هیڅ ډول تعصب یې نه درلود۔ په میلمه پالنه کې یې سیال نه و۔ هغه وخت چې روغ نوغرمه به ددوډۍ لپارکورته تلو۔ که هر استاد به موجود و نو په زوره به یې له ځان سره ملګری کاوه چې دوه درې ځله یې زه هم په وچ زور له ځان سره ملګری کړی یم۔ بیا چې ناروغ و نو ډوډۍ به یې ورته دکوره راوړه۔ کله به یې چې ډوۍ ورته راوړه نوکوټه په کوټه به ګرځیده که څوک به موجود و نو که هرڅو کسان به وو ۔ ده به له ځان سره کینول که ډوډۍ به لږه وه که زیاته په ګډه به له نوروسره په خوشالۍ خوړله۔ استاد تدریس اودرس ورکولو ته لکه دفرض په توګه کتل هرڅومره چې به دده ناروغي شدیده وه بیا به هم په خپل وخت په ټولګي کې په درس بوخت و۔ په ژمي کې به دده ناروغي زیاته وه موږ څو تنو استادانو ورته وویل چې ته مه راځه استراحت وکړه موږ به ستاپرځای ستادرسونه مخته یوسو خوده به نه منله په داسې حال کې چې دپوهنتون تردروازې به په درې دمو کې رسیده۔ نهایت خیرخواه ، مهربان اوزړه سواند شخصیت و ۰ دوطن او خلکو مینه یې په رګونو کې تل په غورځنګونووه۔ داستاد خاطرې راسره زیاتې دي کله به یې ولیکم۔ په پای کې داستاد زغم ټولې کورنې داستاد زامنو اختیار ، مختار ، افتخار داستاد شاګردانو او دوستانو ته دزړه له تله تسلیت وایم اواستادته دمغفرت دعاکوم چې خدای دې جنتونه نصیب کړي ۔ هغه دنیا دې ښایسته وي۔ ددې دنیا په ارمان دې نه شي ۰ یادونه دې تلپاتې وي.»

د پوهاند استاد احمدشاه زغم د مړینې په مناسبت د هندوستان د نهرو پوهنتون د پښتو څانګې پیام:

د استاد زغم په دردونکې مړینه دنهروپوهنتون د پښتوڅانګې داستادانواو زده کونکو دخواخوږۍ پیغام!

په ډیره خواشینۍ سره مو دکابل پوهنتون د پښتوڅانګې د استاد اروابناد پوهاند احمد شاه زغم دمړینې خبر له رسنیوڅخه واورید. استاد زغم یوله هغواستادانوڅخه وچې څوځلې یې دخپل سفرپه ترخ کې زموږله څآنګې څخه کتنه کړې وه، له هغه سره مو له نږدې پیژندل، دهغه له خبرو اولیکنومو تل ګټه اخیستی وه.

داستاد زغم مړینه د پښتوژبې لویې کورنۍ ته دا که په افغانستان کې ده او که له افغانستان څخه دباندې یوه لویه اونه جبران کیدونکی علمی اوفرهنګی ضایعه ده. هغه دخپل ګران عمرلویه برخه دهیواد بچیانواود پښتوژبې په خدمت کې په درنښت سره تیره کړه، په سلګونو او زرګونو شاګردان یې و روزل. پښتوژبې پالندویان اوافغاني ټولنه به دده دخدمت هرعلمي دم او قدم دده د لویو نکیوپه برخه کې په تلپاتې مینې سره یادوي اودده لاره به نوره هم په درنښت سره پالي.

موږ دنهروپوهنتون استادان اوزده کونکي داستاد زغم د مړینې له امله دکابل پوهنتون له پښتوڅانګې، دده له درنې کورنۍ او دوستانو سره خپله خواخوږي اوغم شریکی څرګند وو، اواستاد ته دلوی اوبښونکی خدای له درباره د جنتونو هیله من یو.

یاد یې تلپاتې
په درنښت
پښتوڅانګه نهرو پوهنتون
نوی ډیلی هند

استاد محمد معصوم هوتک د احمدشاه زغم د مړینې په پار داسې څه ولیکل چې د استاد زغم د علمي شخصیت یو بل اړخ څرګندوي. دوی دواړه په باختر آژانس کې ژباړې کولې، دا هم د استاد هوتک د لنډې لیکنې بشپړ متن:

پوهاند احمد شاه "زغم" دې خدای وبخښي

د استاد زغم د وفات خبر یو چا له کندهاره راکړ. سمدستي مې له استاد آصف بهاند سره شریک کړ. دی تر ما دمخه په خبر سوی وو. پر مړینه مو ژوره خواشینې سره شریکه کړه.

استاد احمد شاه زغم مې له هغه وخته دوست او اشنا وو چې له نامه سره ئې "ویښ" کیښ. دغه وخت ما د باختر آژانس په پښتو څانګه کې د بالمقطع اجیر په توګه د اولاد نفقه برابروله او احمد شاه ویښ نوی د ادبپوهنځې په کدر کې شامل سوی وو. ده هم تر رسمي وظیفې وروسته د آژانس په پښتو څانګه کې د قراردادي اجیر په توګه کار پیل کړ. له هماغه لومړۍ ورځې څخه چې آژانس ته راغی، زموږ ستوري سره برابر سول او یارانه مو ټینګه سوه. څه موده وروسته سرنوشت زه په ادبپوهنځې کې د محصل په توګه شامل کړم . دلته مو هم هماغه پخوانۍ انډیوالي دوام وکړ. د پوهنځې تر فارغېدو وروسته د پوهنتون علمي شورا په کدر کې زما د شمولیت مسئله تصویب کړه خو مقاماتو په یوه او بله پلمه له دغه حق څخه محروم کړم. کله چې کاناډا ته راغلم، استاد زغم خطي رابطه را سره ساتله او هغه ترخه حقایق به ئې راته کښل چې په علمي کدر کې زما د شاملېدو په لار کې خنډ ول. راته لیکل به ئې چې "

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اور له خپلي لمني اخيستل کېږي". مراد به ئې دا وو چې د پښتو څانګې ځيني غړي ستا د راتګ په لار کې خنډ دي. دا ليکونه ما پخپل يوه ناچاپ اثر" نيم ديدن" کې خوندي کړي دي.
څو کاله پخوا چې کابل ته ورغلم، د ادبپوهنځي پښتو څانګې ته ورغلم. د پوهنځي په دروازه کې سره مخامخ سوو. همېشنۍ خندا ئې پر خوله وه او د غېږي روغېږ مو وکړ. ويل يې، "درس لرم. ته ډيپارټمنټ ته درځه، زه هم درځم". زه له مرحوم استاد جاج صاحب سره ناست وم چې ملازم له چاى سره کېک کولچې راوړي او زه پوه سوم چې د استاد احمدشاه په غوښتنه ئې راوړي ول. وروسته استاد ويښ هم راورسېد. اوږده د زړه خواله مو سره وکړه. کور ته ئې د ورتګ ست دومره ټينګ وکړ چې د خداى په روى مي کور ته ورسره د تلو عذر ورته وکړ.
زه چې کانادا ته بيرته راغلم، بيا مو هم خطي اړيکې ټينګ ول، خو وروسته ئې په ناروغي خبر سوم. له بده مرغه چې نه ئې پر رنځ حاضر وم، نه پر جنازه. له فرسنګونو ليرې مي دوعاوي ورولېږلې.
استاد احمدشاه زغم په علمي ډګر کې ښه استاد وو، ښه افاده ئې درلوده، له مسلک سره ژمن وو. په شخصي ژوندانه کې مېړه مخې سړى وو. د کندهاريانو په اصطلاح د "خرابات خانه ئې هم درلوده". شعر ئې هم وايه او ليکلي آثار ئې هم پرېښوول. د شاګردانو شمېر تر حساب تېر دئ استاد پر داسې وخت ولاړ چې د شپېتو برېڅو ورځ په ورځ کمى دئ او زموږ هيڅ هم په وس نه دي پوره.

جنتونه دې خداى نصيب کړي. آمين
آټاوا ـ کانادا
۲۰ فبروري ۲۰۲۳ع

د پوهاند زغم د لومړي تلين د لا درناوي په پار به، د ده د دردونکي مړيني په پار د استاد زلمي هېوادمل هغه ليکنه راواخلم چې د زغم تر مړيني درې اونۍ وروسته (۲۰۲۳/۰۳/۱۲) وروسته يې په خپله فيسبوکپاڼه کې خپره کړه.

دلته د دې ليکنې رااخستل ځکه اړين ګڼم چې په ليکنه کې له يوې خوا د پوهاند زغم د ژوند پر بېلابېلو اړخونو باندې خبرې شوې دي او له بلې خوا د هغه وخت د فرهنګي او علمي بهير پر داسې جزياتو باندې رڼا اچول شوې ده چې تر اوسه پورې يې يادونه چا نه وه کړې او د هغې زمانې د فرهنګي بهير ځينې داسې تياره ګوټونه په ليکنه کې روښانه شوي او هېر مسايل په کې ياد شوي او ثبت شوي دي چې بيخي نوي او د اوسنيو ليکوالو او لوستونکو لپاره ډېر اړين او جالب دي:

«د پوهاند احمد شاه زغم د بې وسۍ او نا اميدۍ دردوونکې مړينه

د تيرې دلوې ۱۴۰۱ / ۲۰۲۳ د مياشتې په وروستۍ مازيګر، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځی، فقير مشربه او زيارکښ استاد، پوهاند احمد شاه زغم له دې نړۍ سترګې پټې کړې، خپله کورنۍ، دوستان، استادان، ملګرى او شاګردان يې د وير په ټغره کښينول.

د تيرې هجرى شمسى پېړۍ په شپېتمو کلونو کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځی د پښتو څانګې تدريسى کادر ته څو نوي ځوانان جذب شول چې: عبدالخالق رشيد، بريالى باجوړى، آصف بهاند، محمد رفيق رفيق او په ټولو کې ځوان (هغه وخت) احمد شاه ويښ او بيا زغم پکې شامل وو.

دغو ځوانو تدريسى غړيو له خپل استعداد سره سم له فرهنګ سره خپله مينه وپاللـه او د فرهنګ پالنې د ذوق د خړوبولو په منظور يې ځينو په پوهنځی کې د تدريس تر څنګ ځيني نورې فرهنګى هڅې هم وکړې، لکه: عبدالخالق رشيد د کابل پوهنتون د فرهنګى شورى د مرستيال، بريالى باجوړى د افغانستان د ليکوالو انجمن د پښتنو او بلوڅو د ادبياتو د څانګې او بيا د انجمن د ادبى څېړنو او نقد څانګې د مشر په حيث او آصف بهاند، د ژبپوهنى او ادبپوهنى د ممتاز استاد پوهاند محمد رحيم الهام سره، د اجتماعى علومو د اکادميکى مجلى د معاون په حيث اضافى فرهنګى کارونه وکړل.

کله چې په شپېتمو کلونو کې د کابل پوهنتون ځينو پوهنځيو کې او په تيره د ژبو او ادبياتو پوهنځی کې دويمه پلا د ماسترۍ برنامه پيل شوه، دغو ځوانو تدريسى غړيو، ټولو د ماسترۍ برنامه تعقيب کړه او ټول د ادبياتو ماستران شول. ځوان احمد شاه ويښ هم دغه مهال ماستر شو، د ليسانس د دورې د مانوګراف او د ماسترۍ د تيزس له ليکلو سره يې د ليکوالى تجربه هم مخ په غوړيدو شوه، مګر ددې تجربى د لا صيقل او په دى ساحه کې يې د خپل استعداد د لا غوړولو په منظور خپلې هڅې جارى ساتلى او د پوهنتون په فرهنګى شورى کې به يې د استاد رشيد له هڅونو او تجربو ښه استفاده کوله او په زده کړه کې يې چې څومره کولاى شول له هر چا: مشرانو او همزوليو مرسته غوښتله.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

همدا مهال يې د مقالو ليکل هم شروع کړل. د احمد شاه زغم لومړنۍ چاپي مقاله چې ما ليدلې وه د (چاربيته) تر عنوان لاندې زموږ په مهالنيو خپرونو کې چاپ شوې وه.

زموږ په معاصر تاريخ کې د تيرې هجرۍ شمسي پيړۍ اويايم کلونه د تنظيمي جنګونو د بربادېواو بدبختيو کلونه دي. دغه خونړۍ پير ډېرې افغانان د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ کړل، مګر احمد شاه زغم د ناخوالو او ناورينونو پدې بد دوران کې له هيواده ونه ووت، پر کور ؤ او ټولو نا ملايماتو ته اوږه ورکړه.

څو کاله ما زغم و نه ليد کله چې د اتيايمو کلونو په پيل کې بيرته کابل ته راغلم. پدغو کلونو کې زموږ استاد پوهاند محمد صابر خيشکی د ژبو او ادبياتو د پوهنځی رئيس ؤ. د هغه ليدو ته ورغلې وم چې د هغه له دفتر ووتم په دهليز کې مې احمد شاه زغم وليد په خندا يې روغ بړ راسره وکړ.

ما ورته وويل: احمد شاه جانه! ارويدلی مې دي چې په تيرو جنجالي کلونو کې دې ډېر مشکلات وليدل. په خورا حوصله مندۍ يې صرف دومره را ته وويل: هر څه چې وو تير شول.

د همدغو اتيايمو کلونو د لسيزې په لومړيو کلونو کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځی د پښتو او دری ژبو او ادبياتو د ماسترۍ برنامې، درييمه پلا بيا له سره پيل شوې. د ماسترۍ د درييمې پلا پيل په لومړيو کلونو کې ددې برنامو د اکادميکو کارونو د اجرا لپاره لا ځانګړې بوردونه نه وو جوړ شوي. د برنامې ټول اکادميک کارونه د پوهنتون رياست کې د ځانګړيو کميسونونو له لارې سرته رسيدل.

د کابل پوهنتون هغه وختنی رئيس دوکتور اشرف غنی غالباً د خپلو نورو مصروفياتو په وجه د کابل پوهنتون د رياست د چلولو لپاره، پوهنوال دوکتور نظيفی خپل کفيل ټاکلی ؤ. د پښتو ماسترۍ د اکادميکو چارو د اجرا لپاره يوه کميټه جوړه شوې وه چې پوهنوال دکتور نظيفی، د عالی تحصيلاتو د وزرات معين پوهاند محمد صابر خيشکی، زه (هيوادمل)، د کابل پوهنتون اداری معاون مکمل الکوزی او د پوهنځی د پښتو څانګی په نماينده ګی احمد شاه زغم پکی شامل وو.

دې کميټی به د ضرورت په وخت کې غونډې کولی. ما د کميټی په ټولو غونډو کې احمد شاه زغم يو داسې شخص وموند چې د خپل صلاحيت په چوکاټ کې به يې ډېر آرام او مدلل خپل نظر څرګنداوه او عمده کار يې د پښتو څانګی له منسوبينو دفاع وه او که به دده د غوښتنو په وړاندې د پوهنتون مسوولينو د قانونی مشکلاتو يادونه وکړه، ده به له اکادميکو برخوردونو د يو خبر سړی په توګه د مقابل لوري معقول استدلال مانه.

پر ۲۰۰۷ م کال يونسکو د حضرت مولانا جلال الدين بلخی د ۸۰۰ کال لمانځنه پر بين المللی سطح منلی وه. د افغانستان ډېرو دولتی او خصوصی علمی – فرهنګی موسساتو هم دا کال د منطقه يی او ملی، سيمينارونو د جوړلو له لياري ونمانځه. کابل پوهنتون پدې مناسبت د پوهنتون په اديتوريم کې يو ورځنۍ علمی غونډه جوړه کړې وه.

له ښه تصادفه هغه مهال، زموږ د هيواد منلی سياسی- فرهنګی شخصيت دوکتور عبدالغفور روان فرهادی او د علامه محمود طرزی لمسی (غالباً د محمود طرزی ليسې د نوې ودانۍ د پرانيستلو په مراسمو کې د ګډون لپاره) کابل ته راغلی وو. ما د کابل پوهنتون ددې غونډې له مجريانو وغوښتل چې استاد روان فرهادي او د محمود طرزی لمسی هم دې غونډې ته دعوت کړي، مجريانو زما غوښتنه په خوښې ومنله او دواړه يې دعوت کړل. د غونډې په ورځ زه خپله په دواړو پسې انترکانتيننتال هوتل ته ورغلم او کابل پوهنتون ته مې راوستل. په غونډه کې ددې دواړو شخصيتونو ګډون غونډې ته لا درنښت وباخښه.

پدې سيمينار کې زموږ احمد شاه زغم هم د مولانا د مثنوی معنوی د ځينو برخو او ځينو حکاياتو د پښتو ترجمو په باب، په پښتو ژبه غونډې ته يوه مقاله وړاندې کړه.

د زغم تر مقالې وروسته د غونډې له ګډونوالو يو چا احمد شاه زغم ته د درناوې په منظور، پرته له دې چې دده مقالې او يا د هغه نامه ته اشاره ولري، د سيمينار له هيئت رئيسه د څو خبرو اجازه وغوښته او له ابتدا تر انتهايي د مولانا د مثنوی معنوی د بيلابيلو دفاترو، او متفرقو حکاياتو د پښتو ترجمو او شرحو په باب غونډې ته اوږدې خبرې وکړې. زما ياد دي چې د تفريح په وخت کې احمد شاه زغم – سره له دې چې نه چا دده مقالې او نه يې نامه ته څه اشاره کړې وه – راغی او له هغه سړی يې ډېره مننه وکړه او ورته يې وويل: داسی معلومات دې وړاندې کړل چې ما ته نوي وو. که دا خبرې دې وليکې زه به د خپلې مقالې په بشپړاينه کې ترې استفاده وکړم.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ما چې د احمد شاه زغم دا برخورد ولیده، دده پر اکادمیک ذهنیت باوري او ډیر خوشحاله شوم. ځکه موږ په داسې جامعه کې ژوند کوو چې د سالم او رغنده نقد حوصله هم نه لري. دا چې د مولانا په غونډه کې د زغم تر مقالې وروسته هغه سړي (نقاد) د موضوع د بشپړایني په پارغونډې ته خبري وکړی، خو نه یې د زغم مقالې او نه یې نامه ته اشاره وکړه، دا نه یادونه غالباً له همدې ویرې ناشی کیده چې زموږ په ټولنه کې له نقده موجوده وه او ده (نقاد) به انګیرلې وي چې که به د زغم نوم واخلم مبادا چې پر زغم به درنه تمامه شی.

د نویمو کلونو په پیل کې د عالی تحصیلاتو وزارت وپتیله چې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی کې د پښتو او پارسی – دری ژبو او ادبیاتو د دوکتوری د تحصیلی دورې برنامی شروع کړي.

د وخت د تحصیلاتو وزیر دوکتور عبید دا نظریه د اجرایي کیدو په منظور جمهوری ریاست ته پیشنهاد کړه. هغه وخت زما دولتی وظیفه داسې وه چې په دغسې مواردو کې باید له ما پوښتنه شوی وای. یوه ورځ یو حکومتی مجلس ته وغوښتل شوم. او له ما یې د عالی تحصیلاتو د وزارت د پیشنهاد او په کابل پوهنتون کې د دوکتوری د برنامی د پیل په باب پوښتنه وکړه او جمهور رئیس کرزي دا هم راته وویل: د مجلس اکثر غړي ددې برنامې له پیل سره مخالف دي او وایی چې زموږ پوهنتون د دې برنامې د چلولو توان نه لري؟ ما ورته په ځواب کې وویل:

ما د هند او روسیې په شمول د افغانستان د زیاترو ګاونډیو هیوادونو د ژبو او ادبیاتو د دوکتوری برنامی او د هغوی د ځینو فارغانو ډیزرټیشنونه او درسي سلیبسونه کتلی او له استادانو سره مې هم خبري کړي دي. که به موږ په کابل پوهنتون کې د پارسی – دری او پښتو ژبو او ادبیاتو د دوکتوری برنامی شروع کړو. د یادو هیوادو له مشابه برنامو که مخ ته نه وي نو به تري پاته هم نه وي. البته موږ تخنیکی او د برنامه ریزۍ ځینې ستونزې لرو، خو که هر څومره دا برنامه ځنډوو، دا ستونزې نه رفع کیږي. دا وړ ستونزې هغه وخت د حل لار موندلای شی چې موږ برنامه شروع کړو.

د جمهور رئیس حامد کرزی په شمول مجلس، زما له خبرو سره موافقه وکړه او پدې توګه د دری – پارسی او پښتو ژبو او ادبیاتو د دوکتوری دورې برنامی په کابل پوهنتون کې او د شرعیاتو د دوکتوری یوه برنامه په ننګرهار پوهنتون کې منظورې شوې.

دوې درې ورځې وروسته یو مازیګر زه په صنف کې وم چې دروازه را وټکیده، زه خپله دروازې ته ورغلم ګورم چې استاد بایزید اخک ولاړ دی (دا وخت غالباً د پښتو څانګې مشر ؤ) پوښتنه مو سره وکړه زه یې دهلیز ته وبللم او را ته یې کړل: "نن د پوهنځی رئیس بللی وم او را ته یې وویل چې وزارت په پښتو او درې څانګو کې دوکتوری شروع کوي. د کارونو د تنظیم لپاره یو کمیټه جوړیږي ته به په دې کمیټه کې برخه اخلې. ما ورته وویل: زه خو ناجوړه یم شاید تل ګډون و نه ګړای شم. زه به څوک د ځان په نماینده ګی دې کمیټې ته در ولیږم. زما خوښه ده چې ته ددې کمیټی په غونډو کې اشتراک وکړې."

ما (هیوادمل) استاد اخک ته وویل: امر دې پر لیمو ما ته وزارت هم ویلی دي چې دې کمیټه کې اشتراک وکړم، خو ستاسې امر پدې برخه کې زما وظیفه یې مسوولیت دوه چنده کړ تاسې بې غمه اوسئ ستاسې امر پر ځای کیږي.

د پښتو او پارسی – دری دوکتوری د برنامو د چارو د تنظیم لپاره د عالی تحصیلاتو د وزارت لپاره یوه کمیټه په کار وګمارل شوه چې دا لاندې ذوات پکې شامل وو:

پوهاند دوکتور محمد عثمان بابری د وزارت علمی معین، پوهاند دوکتور محمد قاسم جمدر د وزارت اکادمیک مشاور، انجینر حبیب د کابل پوهنتون رئیس، دوکتور نسیمی د ژبو او د ادبیاتو د پوهنځی رئیس، پوهاند محمد صابر خیشکی، پوهاند دوکتور عبدالقیوم قویم، پوهاند دوکتور حسین یمین، پوهاند دوکتور محمد افضل بنووال، پوهندوی دوکتور عبدالخالق وفایی او زه (هیوادمل).

دې کمیټی د دوکتوری د کاندیدانو د داخلې، رهنمایی، ځینو اکادمیکو چارو او د دې لومړۍ تحصیلي دورې د کاندیدانو د شمیر او نورو... په باب فیصلې وکړې. دې کمیټی دوې درې غونډې درلودې. کله کله به په غونډو کې ځینو اعضاوو خپل احساسات نشوی کنترولولای، په یوه غونډه کې استاد وفایی او استاد بنووال خوله په خوله شول او د کمیټې جلسه یې بې خونده کړه او دوکتور بابري یې ختم اعلان کړ.

کمیټې فیصله وکړه چې د دوکتوری په اوله دوره کې دې د دواړو دیپارتمنټونو له ماسترو مشرانو استادانو څخه لس لس تنه د دوکتوری د تحصیل لپاره جذب شی. د طرزالعمل تطبیق او د اکادمیکو مسایلو د اجرا چارې د پوهنځی اداری ته وسپارل شوې.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پښتو څانګې د لسو تنو مشرانو استادانو په سلسله کې پوهاند احمد شاه زغم هم د دوکتورۍ برنامې ته معرفي شو.

د خپل ډیزرتیشن له مفرداتو یې د پوهنځي په علمي کمیټه کې دفاع وکړه او د دوکتورۍ د لومړۍ دورې درسي کورسونه یې شروع کړل.

ما (هیوادمل) ته د پوهنځي د دوکتورۍ د علمي کمیټې له خوا د دوکتورۍ د تدریسي دورې په وروستیو دریوو سمسترونو کې د افغانستان د فرهنګ تاریخ، ادبي نظریې او پښتو حماسه د مضامینو د تدریس چارې را وسپارل شوې. او په دې دریو سمسترونو کې زما نه په یادیږي چې احمد شاه زغم دې یوه ورځ هم غیر حاضر شوی وي. هغه مهال موږ مرض نوی نوی دده په وجود کې مخ په خپریدو ؤ. کله کله به ستړی ښکاریده، یوه ورځ ما ورته وویل: احمد شاه جانه، زه ستاسې درسونه تکثیروم او تاسې ته یې انشاالله درسپارم، که صنف ته راتګ درته مشکل وي زما په درسونو کې مه راځه. زغم په خپله دایمي آرامه لهجه را ته وویل: زما دا آرزو وه چې کله به دوکتورۍ شروع کوم. دا آرزو مې اوس پوره شوه، په شوق یې درسونو ته راځم.

پدې کې استاد بخت میر وزیري (هغه وخت د دیپارتمنت مشر) او دوکتور ښکلی را ته وویل موږ ورته په وارو وارو ویلې دي که ستړیا احساسوې نو د دیپارتمنت ځوان استادان ټول آماده دي چې ستا پر ځای ستا صنفونو ته ورشي خو دې یې نه منې او پر خپل وخت خپلو صنفونو ته ورځي او شاګردانو ته درس ورکوي.

زما (هیوادمل) د معلمۍ په اصولو کې یو اصل دا دی چې تر ازموینې وروسته کتلې پاڑچې بیرته پدې نیامت شاګردانو او سکالرانو ته سپارم چې وې ګوري، که ما سهوه کړې وي د امتحان د پاڑچې خاوند به ما خپلې سهوې ته متوجه کړي. د شاګردانو او سکالرانو له خوا د خپلو پاڑچو تر کتلو وروسته بیا د امتحان نتایج اداري ته سپارم.

په دې دریو سمسترونو کې چې ما له پوهاند زغم او دده له ملګرو سکالرانو سره درس درلود او له هرې ازموینې وروسته به مې چې پاڑچې دوی ته وسپارلې، یو نیم ملګری به لا یو څه غوښتنه کوله، خو زغم به هر ځل را ته ویل چې اوس دې هم ډیرې نومرې راکړې دي. د احمد شاه زغم دې برخورد به دده د قناعت عالي سطح را ښوولې.

پوهاند احمد شاه زغم چې د خپل ژوند په ورستیو څو کلونو کې له لا علاجه مرګونې مرض سره مبارزه کوله، د ماسترۍ او لیسانس صنفونو ته یې تدریس کاوه او هم یې د خپلې دوکتورۍ د ډیزرتیشن د موادو د لټون او تنظیم هڅې کولې له ما سره یې څو ځله پدې برخه کې مشوره کړې وه.

پوهاند احمد شاه زغم ما سږ کال وروستۍ پلا د قوس په میاشت کې د پښتو څانګې د دوکتورۍ د دویمې دورې د سکالرانو د دفاع په لومړۍ ورځ د پوهنځي د چینایي دیپارتمنت په ادیتوریم کې ولید او د ښاغلي انځور د دفاع په جریان کې یې یوه ښه تبصره وکړه.

بیا د دې کال په وروستیو میاشتو کې د فیسبوک له لارې خبر شوم چې د احمد شاه زغم مرض زور کړی او په روغتون کې بستري دی. د دلو په میاشت کې یوه شپه د رودوالو دوستانو په یوه واده کې له پوهاند دوکتور محمد رفیق رفیق سره پر یوه میز ناست وم. له ده سره د بنډار په ترڅ کې مې ترې د پوهاند احمد شاه زغم پوښتنه وکړه، د ناروغۍ په باب مې د فیسبوکونو د نوشتو خبرې ورسره شریکې کړې. استاد رفیق راته وویل: د ده ناروغۍ هر کال په ژمې کې زیاتیږي، سږ کال هم زیاته شوې او اوس بستر دی.

له استاد رفیقه مې بیا وپوښتل: د احمد شاه د دفاع موضوع څنګه شوه؟ استاد رفیق په ځواب کې را ته وویل: ابتدایي دفاع یې کړې ده. پوهنتون چې کله شروع شي دواړه به د دیپارتمنت له مشر دوکتور اجمل ښکلی سره خبرې وکړو او ترې وبه غواړو چې د نهایي دفاع غونډه ورته جوړه کړي.

له بده مرغه چې د استاد رفیق او زما له دغو خبرو څو ورځې وروسته یې بیا هم له فیسبوکه له غمجنې مړینې خبر شوم. خدای دې جنتونه ورکا او کورنۍ ته یې تسلیت.»

استاد زغم داسې شخصیت و، چې هېر به نه شي او تل به په ښو سره یادېږي.

اروح یې ښاده

یاد یې تل‌پاتې.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ